**بسم الله الرحمن الرحیم**

## مهرباني؛ د امر بالمعروف او نهی عن المنکر لومړی ادب دی

**(ژباړه)**

**عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: اسْتَأْذَنَ رَهْطٌ مِنَ الْيَهُودِ عَلَىَ رَسُولِ اللّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالُوا: السّامُ عَلَيْكُمْ. فَقَالَتْ عَائِشَةُ: بَلْ عَلَيْكُمُ السّامُ وَاللّعْنَةُ. فَقَالَ رَسُولُ اللّهِ صلى الله عليه وسلم: «يَا عَائِشَةُ إِنّ اللّهَ يُحِبُّ الرّفْقَ فِي الأَمْرِ كُلِّهِ»، قَالَتْ: أَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا؟ قَالَ: «قَدْ قُلْتُ: وَعَلَيْكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِي رِوَايَةٍ: «يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللّهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ. وَيُعْطِي عَلَىَ الرِّفْقِ مَا لاَ يُعْطِي عَلَىَ الْعُنْفِ. وَمَا لاَ يُعْطِي عَلَىَ مَا سِوَاهُ». وَفِي رِوَايَةٍ أُخْرَى: «إِنَّ الرِّفْقَ لاَ يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلاَّ زَانَهُ، وَلاَ يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلاّ شَانَهُ».**

***ژباړه:*** *له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې ویلي یې دي: یهودانو یوې ډلې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د داخلېدو اجازه وغوښته او ویې ویل: "سام علیکم؛ پر تا دې مرگ وي." عائشه رضي الله عنها وایي چې ما وویل: مرگ او د الله لعنت دې پر تاسو وي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې عایشې! الله (سبحانه وتعالی) په ټولو کارونو کې نرمي خوښوي. ما وویل: ایا وادې نه اورېدل، چې دوی څه وویل؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما هم دوی ته وویل: (وعلیکم) مرگ دې پر تاسو وي. (رواه مسلم). په یوه روایت کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې عایشې! الله (سبحانه وتعالی) مهربان دی او مهرباني او نرمي خوښوي. د مهربانۍ او نرمۍ په بدل کې داسې اجر ورکوي، چې د غوسې او نورو شیانو په بدل کې یې نه ورکوي. په یو بل روایت کې راغلي دي: مهرباني چې په هر شي کې وي، هغه ښایسته کوي او له هر شي څخه چې لرې شي، هغه خراب او معیوب کېږي.*

گرانو دوستانو!

دلته (رفق) په خبرو کې د نیکۍ او په معامله کې د نرمخویۍ په معنا دی. نو څوک چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي، هغه باید نیکې خبرې وکړي، نرم خوی ولري او برعکس بدې خبرې ونه کړي، بلکې داسې نېک الفاظ باید وکاروي، چې د خلکو په زړونو کې ځای ونیسي؛ ځکه نېکه خبره د زړونو کیلي ده. که چېرې یې پر زړه باندې نرمۍ او نیکۍ اغېز ونه کړ، نو روا ده چې له هغوی سره په شدت او سختۍ خبره وشي.

نووي په (الاذکار) کتاب کې لیکلي دي: څوک چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي، نو هر مؤدب انسان ته ښايي، چې خپل مخاطب ته داسې الفاظ وکاروي: افسوس ستا پر حال، اې بېچاره، لږ ځان ته پام

وکړه! اې پر ځان ظلم کوونکيه! په دې اړه احاديث راغلي دي او په هغو کې يو يې د عدي بن حاتم الثابت حديث دی، چې په صحيح مسلم کې راغلی دی.

**«أن رجلا خطب عند رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: من يطع الله ورسوله، فقد رشد، ومن يعصهما، فقد غوى. فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: بئس الخطيب انت، قل: ومن يعص الله ورسوله»**

***ژباړه:*** *يوه کس د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر خوا کې خطبه بيانوله او ويې ويل: هر څوک چې له الله او د هغه له رسول څخه اطاعت وکړي، هدايت شوی دی او څوک چې له دوی دواړو څخه سرغړونه وکړي، گمراه شوی دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څه ناوړه خطيب يې، داسې ووايه: څوک چې له الله او د هغه له رسول څخه نافرماني وکړي.*

او د جابر بن عبدالله په حديث کې روايت شوي دي:

**«أن عبدا لحاطب جاء يشكوا حاطبا، فقال: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ليدخلن حاطب النار. فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: كذبت، لا يدخلها فإنه شهد بدرا والحديبية»**

***ژباړه:*** *د حاطب غلام رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او له حاطب څخه يې شکايت وکړ او ويې ويل: حاطب به دوزخ ته ځي. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دروغ وايې، هغه دوزخ ته نه ځي، ځکه په بدر او حديبيه کې يې گډون کړی و.*

همدارنگه د ذی‌الخويصرة لپاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبره: "**ويلک فمن يعدل ان لم اعدل**؟؛ *افسوس پر تا که زه عدالت ونه کړم، نو څوک به يې کوي؟*"

د يماني وزير محمد بن ابراهيم په کتاب (العواصم والقواسم) کې راغلي دي: «پوه شه چې د شديدو، وېروونکو او سختو الفاظو د ويلو لپاره څلور شرطونه دي. دوه شرطونه يې مباح دي؛ يو دا چې په خپلو خبرو او عمل کې د مخاطب سپکاوی ونه کړي او بل دا چې ويونکی دروغ ونه وايي. يعنې هغه کس ته چې مکروه عمل کوي، داسې ونه وايي چې، اې گنهکاره! يا هغه کس ته چې گناه کوي او نه پوهېږي چې گناه يې کبيره ده، ونه وايي چې اې فاسقه! همدارنگه مسلمان فاسق ته ونه وايي، چې اې کافره! او همداسې نور. دوه نور شرطونه مستحب دي؛ يو دا چې متکلم گومان وکړي چې شديدې خبرې يې د دې لامل کېږي، چې مقابل کس به

حق ژر ومني او بل دا چې دليل به ورته ښه واضح شي؛ د دعوت په برخه کې له دغو حالتونو پرته له دغو الفاظو څخه استفاده مه کوئ. له مور او پلار سره مهرباني کول واجب دي؛ ځکه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا﴾ [اسراء: 23]

*ژباړه: د هغوی پر وړاندې (اف) هم مه کوئ، چيغې مه پرې وهئ او له ځانه يې مه شړئ، په ډېر احترام خبرې ورسره وکړئ.*

امام احمد بن حنبل وايي: کله چې دې پلار د يو بد عمل په کولو وليد، پرته له دې چې له غوسې، غضب او شدت څخه ډکې خبرې ورته وکړې، هغه پوه کړه او نور يې په خپل حال پرېږده؛ ځکه چې پلار د عادي کسانو په څېر نه دی. يعقوب بن يوسف په يوه روايت کې وايي: که مور او پلار دې شراب پلورل، د هغوی خواړه مه خوره او بېرون ته ورڅخه ووځه. په هغه روايت کې چې له ابراهيم بن هاني څخه نقل شوی، راغلي دي: که مور او پلار مو د انگورو ونه درلوده، چې له هغې څخه يې شراب جوړول او بيا يې پلورل، هغوی په معروف امر او له منکر څخه يې منعه کړئ؛ که ستا خبره يې ونه منله، ورڅخه لاړ شه او ژوند ورسره مه کوه. ابوبکر په ذات المسافر کې وايي:

**«عن عبد الله بن عمرو بن العاص أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "من الكبائر شتم الرجل والديه. قالوا: يا رسول الله، هل يشتم الرجل والديه؟ قال: نعم، يسب أبا الرجل، فيسب أباه، ويسب أمه، فيسب أمه»**

*ژباړه: له عبدالله بن عمرو بن عاص څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: مور او پلار ته ښکنځلې کول کبيره گناه ده. يوه کس ووېل: ايا څوک خپلې مور او پلا ته هم ښکنځلې کوي؟ ويې فرمايل: هو، کله چې يو څوک د بل چا پلار ته ښکنځلې وکړي، نو هغه هم د ده پلار ته ښکنځلې کوي او که د يو بل چا مور ته ښکنځلې وکړي، هغه هم د ده مور ته ښکنځلې کوي.*

اولاد بايد په مهربانۍ او نرمۍ سره خپل پلار او مور په معروف امر او له منکر څخه منعه کړي او دوی ته روا نه دي چې له هغوی سره په ناوړه او سختو الفاظو خبرې وکړي.

**ژباړن: صهيب منصور**